# د دماغونو پرواز




Ketabton.com

ژباړه او څېړنه: جان محمد مهربان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دماغونو پرواز

د جان محمد مهربان ژباړه او څېړنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېژندنه

نوم: د دماغونو پرواز (Braindrain)

ژباړه او خېړنه: جان محمد مهربان

د ليکوال برېښناليک: jmihraban@yahoo.com

انلاين چاري: مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام برېښنايي کتابتون

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب لړلیک


1. دژباړن او خپرونکي څو خبري
2. ددماغونو دپرواز پېژندنه
3. اروپا
   3.1 غربي اروپا
   3.2 مرکزي او شرقي اروپا
   3.3 جنوبي شرقي اروپا
   3.4 پرتګال، ارلنډ، ایټالیا، یونان او هسپانیه
   3.5 انګلستان
   3.6 ترکیه
4. افریقا
   4.1 ګانا
   4.2 جنوبي افریقا
5. اسیا
   5.1 غربي اسیا
   5.2 عراق
   5.3 ایران
6. منځنی ختیځ
   6.1 اسرائل
   6.2 عربي نړۍ
7. پاسفیک اسیا
   7.1 مالیزیا
   7.2 فلپین
8. جنوبي اسیا
   8.1 انډیا
   8.2 نیپال

(c) ketabton.com: The Digital Library




8.3. پاکستان
8.4. سریلانکا
8.5. افغانستان
9. شرقي اسیا
9.1. چین
9.2. تایوان
10. استرالیا
10.1. دپاسفیک جزیرې
10.2. نیو زیلاند
11. شمالي امریکا:
11.1. کاناډا
11.2. دامریکا متخده ایالات
12. لاتین امریکا
12.1. کیوبا
13. کارابین
14. ددماغونو دپرواز دمخنیوي لارې
15. ددماغونو دپرواز ګټې
16. دماغونو دپرواز مفني تاثیرات
17. ضمیمې
18. ماخذونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړن او څېړونکي څو خبري

ددماغونو پرواز داقتصاد په علم کښې دبحث او دپام وړ موضوع ده. دپوهنتون داستادانو له خوا ددغي موضوع په اړه محصلينو ته پوره معلومات نه په ليکچرنوټونو کښې اونه په شفاهي ډول ورکول کيږي.

ما(ج.م. مهربان) ته له ډېري مودي راهيسي دغه سوال پيدا ؤ چي ولي افغانان په افغانستان کښې خپلي عزتمندي دندي پرېږدي اودهيواد دباندي ډېرو داسي کارونو ته لاس ور اچوي چي هغه ددوی دشخصيت او مسلک سره برابر نه وي. دغه سوال مي هم په ذهن کښې ګرځېدئ چي دافغانستان دولت پرافغانانو باندي دشپاړسو کلنو يا تردې هم زياتي مودې له پاره سرمايه ګذاري وکړي خو اخير افغانان دامريکا متحده ايالاتو، کاناډا او نورو غربي هيوادونو ته حتی دژوند په قيمت او قرباني ځانونه ورسوي. ددغو سوالونو دجوابولو او دمحصلينو سره ددماغونو يادبشري سرمايې دپرواز په اړه دمعلومات شريکولو په نيت مي دغه لاندي څېړنه او ژباړه په انټرنيټ کښې دانګلېسي ويب سايټونو څخه راټوله او ژباړلې ده او په لراوبر کښې بېله عکسونو او جدولونو ئې درې برخي خپرې سوې. ډېر کوښښ مي وکړ چي په دې څېړنه کښې د ډېرو هيوادونو په اړه معلومات وړاندي کړم خو دهرهيواد په اړه مي معومات پيدا نه کړای سوای.

دځينو هيوادونو په اړه مي پوره معلومات وړاندي کړی دي اودنوروپه اړه بيا ځکه لږ معلومات ورکول سوي دي چي په انټرنيټ کښې مي پيدا نه کړل. دمثال په توګه، دمنځنۍ اسيا په اړه په انټرنيټ کښې خاص معلومات نه وه که څه هم زه دونده خبر يم چي دتاجکستان، ترکمنستان او نورو مرکزي اسيايي هيوادونو زيات شمېر علمي کدرونو روسيې ته پرواز کړی دئ خو مربوط ارقام او احصايه مي تر لاسه نه کړای سوای.دافغانستان ددماغونودپرواز په اړه په ويکيپيډيا کښې هيڅ معلومات نه ول نو مجبور سوم چي دنورو ځايونو څخه معلومات تر لاسه کړم. داهم بايد ووايم چي په دغه ژباړه او څېړنه کښې ځيني جملې او پاراګرافونه په داسي ډول پای ته رسېدلي دي چي بايد نه وای رسېدلي يعني يو څه معلومات نور هم پر جمع سوي وای. ما خپل محدويتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګوته کړل خو بیا هم که انتقاد ، پیشنهاد او یا اضافه معلومات  لرئ، دمهربانۍ له مخې ئې پردغه ادرس را سره شریک کړئ: jmihraban@yahoo.com

په درښنت

جان محمد مهربان

کابل، دو راهي ده عربان، قرغه

۱۳۹۲-قوس -۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ددماغونو پرواز

## Brain drain

دانګلیسي (Brain) د (ماغزه، هو ښ، ذکاوت ماغزه الو زول، ما غزه تویول) معنی لري. د (Drain) کلمه بیاد(وچول، او به ځني ایستل، تشول، زېم ایستل، کرار-کرار کمزوری کېدل، ورو-ورو دعا یداتي منا بعوکمېدل) مفهوم ورکوي. ددماغونویا دبشري سرمایې پرواز (Brain drain or human capital flight)له یوه ځایه بل ځای ته دیو غټ ګروپ افرادو دتخنیکي مهارت یاپوهي مهاجرت/انتقال ته ویل کیږي.[1] ددماغونو پرواز اکثره وخت دوه علته لري چي یوئې له افرادو اوبل ئې له ممالکو څخه سرچینه اخلي. له هیوادونو څخه ځکه سرچینه اخلي چي دیو هیواد اجتماعي چاپیریال، دکاري زمینو کموالی، سیاسي بې ثباتي، اقتصادي خپګان( economic depression)، روغتیايي خطرونه( health risks) اوداسي نور، دبل هیواد غني فرصتونه( rich opportunities) سیاسي ثبات اوازادي، پرمختللی اقتصاد، دژوند کولو ښه شرایط اوداسي نور دیو مملکت اوسېدونکي مجبور او تشویق کړي چي خپل هیواد پرېږدي او بل هیواد ته ولاړ سي. شخصي ترجیح، په خارج کښي ددوستانو درلودل، هورې (په خارج کښي )خپل مسلک ته دښه انکشاف ورکولو زمینه اوداسي نور... په فردي دلایلو کښي حسابیږي.که څه هم ددماغونو پرواز لومړي ځل دهغوتکنالوجیکي کارمندانو له پاره کارول کېدئ چي خپل هیواد به ئې پرېښوو ئ، خو نن دغه اصطلاح ډېره پراخه سوې ده، ټول هغه تعلیم یافته او مسلکي وګړي په کښي راځي چي له یوه هیواد ،اقتصادي سیکتوراو ساحې څخه بل هیواد ته دښه ژوند او لوړ معاش ترلاسه کولو له پاره ځي.

ددماغونو پرواز ته اکثره وخت داقتصادي مصرف(economic cost,) په نظر کتل کیږي ځکه چي دیو هیواد اوسېدونکي دخپلو هغو ارزښتانکه او تقاضادرلودونکي مهارتونو سره بل هیواد ته ځي چي ددوی دخپلو دولتونو له خوا دکلنو-کلنو راهیسي تمویل سوي وي. ددماغونو پرواز، دمالي سرمایې پرواز(Financial Capital Flight ) ته ورته دئ، ځکه چي یو هیواد دمهارتونو دلړوالي څخه کړیږي اوبل هیواد دمهارتونو دترلاسه کولو څخه استفاده او خوند اخلي چي دې حالت ته بیا ددماغونو حصول(Brain Gain ) ویل کیږي. ددماغونو پرواز داقتصادي انکشاف، ودې او فقر ختمولو پر ضد اویو لوی خنډ دئ. ددماغونو دپرواز اصطلاح په طب کښي هم کاریږي

[1] Brain drain (or human capital flight), is the large-scale emigration of a large group of individuals with technical skills or knowledge.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي هوري ځان ته ښېل مفهوم لري او دلته زموږ دموضوع څخه وتلی بحث دئ. ددماغونو پرواز په پرمختللوونکو ملتونو(developing nations) کښې يوه عامه خبره ده چي يو په يو مې لاندي يادونه کړې ده:

## اروپا:

ددماغونودپروازمېلان په اروپاکښې پر دوو برخو وېشل کيږي. اول داچي ښه بااستعداده ساينس پوهان له غربي اروپا 'Western Europe' څخه دامريکا متحده ايالاتو ته مهاجرت کوي. په دوهم قدم کښې بيا، ماهر کارګران له مرکزي'Central' اوله جنوبي شرقي'Southeastern Europe' اروپا څخه غربي اروپا'Western Europe' ته مهاجرت کوي که څه هم شواهد وايي چي دغه مېلان مخ پر کمېدو دئ.

اروپايي اتحاديه دماهرو کارمندانو دلاسه ورکولو سره مخ ده نو ځکه ئې دبلو کارټ "blue card" پاليسي چي دامريکا دمتحده ايالاتو دګرين کارټ (green card) پاليسي ته ورته/مشابه ده، رامنځ ته کړې ده. دبلوکارټ دپاليسي له مخي، اروپايان کوښښ کوي چي په راتلوونکو دوو لسيزو کښې شل ميليونه کارګران له اسيا، افريقا او لاتين امريکا څخه وباسي. دلته ما (ج.م.مهربان) ته نه څرګنديږي چي دغه شل ميليونه به ئې خپل اوسېدونکي وي او که به ددغو درو براعظمو اصلي اوسېدونکي واردوي چي خپله خلا په ډکه کړي.زما تحليل دادئ چي خپل وطنوال به له دغو براعظمو څخه باسي ځکه چي هيڅ هيواد په پردي فکر نه جوړيږي.

غربي اروپا:

په ۲۰۰۷ مېلادي کښې دوه لکه پنځوس زره (250,000) اروپايانو دامريکادمتحده ايالاتو، يو لک و څلور شپېته زره، دوه سوه پنځه اتيا(164,285) استراليا، څلوېښت زره، څلورسوه پنځه پنځوس(40,455) کاناډا، اووه دېرش زره، نهه سوه شپږ څلوېښت (37,946)نيو زېلاند ته مهاجرت کړی دئ. د جرمني څخه يولک و پنځه پنځوس زره، دوه سوه نوي (155,290) جرمنيانودخپل هيواد څخه کوچ کړی دئ چي اکثره ئې داروپا په داخل کښې مهاجرسوي دي. په اروپا کښې دکارګرانو دمهاجرت دغه ارقام ترټولو لوړه اندازه ښئي چي (په اروپا کښې)ددوهم جهاني جنګ دمهاجرت له عدد سره مساوي دئ. په غربي اروپا کښې پرتګال هغه هيواد دئ چي ترټولوډېرددماغونوله پرواز څخه کړيږي. پرتګاليان انګولا، برازيل ته مهاجرت کوي،


(c) ketabton.com: The Digital Library



دتکنالوژي، روغتیا او بانکي خدماتو مسلکي کدرونه بیا انګلستان ځني جلبوي. پرتګال خپل ۱۹.۵٪ ماهر نفوس له لاسه ورکړی دئ او اوس کوښښ کوي چي دغه ضرورت له استرالیا ، کاناډا ، سویټزرلنډ ، جرمني او استریا څخه پوره کړي.

مرکزي او شرقي اروپا:

دشوروي اتحاد د۱۹۹۱ دسقوط راهیسي،دروسیې څخه تر پنځه لکه(500,000 ) زیات ساینس پوهان او کمپیوټر پروګرامران تللي دي. امریکا ، کاناډا ، جرمني او جنوبي کوریا ته دروسیې ددماغونو پرواز په لاندي ګرافونو کښي ښه څرګندیږي:



(c) ketabton.com: The Digital Library









(c) ketabton.com: The Digital Library






په شرقي اروپا کښې ددماغونو پرواز یو عام مشکل دئ. مرکزي او شرقي اروپادارلنډ او انګلستان سره دخپلو ماهرو کارمندانو دمهاجرت په اړه اندېښنې څرګندي کړي دي خو تراوسه ئې لا نتیجه نه ده معلومه. د ۲۰۰۳ راهیسي لیتوانیا(Lithuania ) خپل یو لک(100,000 ) ځوان او ښه تعلیم یافته کسان له لاسه ورکړي دي چې اکثره ئې ارلنډ ته تللي دي، په داسي حال کښې چې ارلنډ مخکي په خپله ددماغونو د پرواز له ستونزو سره مخ ؤ. دغه ته ورته حالت په پولنډ کښې هغه مهال واقع سو کله چې پولنډ داروپايي اتحاديې غړيتوب ومنئ. داروپايي اتحاديې سره دپولنډ دغړيتوب په لومړي کال کښې، یولک (100,000 ) ثبت سوي پولنډيان انګلستان ته دکار کولو له پاره مهاجرت وکړ. دپولنډ ترټولو لوی بانک (PKO Bank Polski ) دڅېړني له مخي، درو شپېته فیصده (۶۳٪)پولنډيان په انګلستان کښې مهاجر دي چې له ۲۴ څخه تر ۳۵ کاله پوري عمر لري. ددغه فیصدي څخه څلوېښت فیصده (۴۰٪)ئې دپوهنتون څخه فارغه دي. په پولنډ کښې دمعاشاتو دچټکي ودي سمون، پرمختلوونکي اقتصاد(booming economy)د زلاټي(zloty ) یا پولنډي سکې قوي ارزښت او کمېدونکي بې کاري دپولنډي کارګرانو پرواز کم کړی دئ.

جنوبي شرقي اروپا:

البانیا یو له هغو هیوادونو څخه ده چې دکمونیست رژیم دسقوط څخه ورسته ئې ددماغونو پرواز تجربه کړی دئ. د ۱۹۹۱ راهیسي دالبانیا اوسېدونکي ایټالیا، یونان، انګلستان، کاناډا او دامریکا متحده ایالاتو ته دکار له پاره مهاجرت کوي. دتېرو لسو کلنو راهیسي دالبانیا تعلیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یافته او مسلکي کسان خپل هیواد پرېږدي او هغو هیوادونو ته ځي چې هورې ښه امکانات، ښه ژوند او امنیت وي. دپرتګال، ارلنډ، ایټالیا، یونان، هسپانیې ډېر اوسېدونکي استرالیا ،برازیل، انګولا اوارجنټینا ته دکار له پاره مهاجرت کوي.

انګلستان:

د ۲۰۰۰ کلنو په شا او خوا کښې درې عشاریه پنځه (**۳،۵**)میلیون انګرېزانو دانګلستانو څخه مهاجرت کړی ؤ. دانګرېزانو مهاجرت په خاصه توګه استرالیا او دامریکا متحده ایالاتو ته سوی دئ. په ښه اقتصادي فضا کښې کارکول هغه څه دي چې اکثره ځوان انګرېزان مهاجرت پسې کوي.

ترکیه:

د**۱۹۷۰** کلنو په شا او خوا کښې ډېرو ماهرو کارګرانو او کارمندانو دډاکټرانو او انجینرانو په شمول له ترکیې څخه مهاجرت وکړ. هغه مهال په ترکیه کښې سیاسي بې ثباتي او د**۱۹۷۰** فوجي کودتا دترکیانو ددماغونو دپرواز عوامل ول. په دې ورستیو لسیزو کښې ډېرو ترکي مسلکي کسانو له ترکیې څخه مهاجرت کړی دئ البته دهغو محصلینو په شمول چې دترکیې څخه دباندې زده کړې کوي او بیرته خپل هیواد ته نه ځي. دترکي کارمندانو ددماغونو پرواز ته دمیډیا توجه وروانښتل او په ۲۰۰۰ مېلادي کښې دترکیې حکومت اقدام وکړ چې ددماغونو دپرواز ستونزه وڅېړي. په ۲۰۱۰ مېلادي کښې دترکیې دمالیې وزیر یو اټکل وړاندې کړ چې په **۲۰۵۰** مېلادي کښې به دترکیې ملي ناخالص تولیدات(GDP ) پنځه الی شپږ(**۵-۶**)ټریلیون ته پورته سي.

## افریقا:

افریقایي هیوادونه ددماغونو له پرواز څخه داسي متاثر دي چې نه سي کولای چې دفقر له کړښې څخه ځانونه خلاص کړي. په افریقایي هیوادونو کښې، نایجریا، کینیا او ایتوپیا(حبشه) ددماغونو له پرواز څخه ډېر متاثر دي. پرافریقایي هیوادونو باندې دکاله دیو لک او پنځوس زره(150,000 )خارجي/غربي کارمندانو او مسلکیانو پرګومارلو باندې تقریباً څلور میلیونه امریکایي ډالره مصرف راځي. حبشې د ۱۹۸۰ څخه تر ۱۹۹۱ پورې ٪۷۵ ماهر کاري ځواک(workforce ) له لاسه ورکړی دئ. حبشه ډېر ښه ډاکټران روزي خو دغه ډاکټران ترحبشې دامریکا دمتحده ایالاتو دشکاګو په ایالات کښې ډېر لیدل کیږي ځکه چې دافریقا په خدماتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيکتور کښې دکارمندانو معاشات دونه کم دي چي ددوی اساسي ضرورتونه لا نه په رفع کيږي. همداسي په افريقا کښې ډېر پوهنتونونه دباتجربه ليکچر ورکوونکو د کمښت سره مخ دي. کله چي ئې ځوانان له پوهنتونو څخه فارغه سي نو غربي هيوادونو ته دمهاجرت له پاره ملا وتړي. ددماغونو پرواز د افريقا داقتصادي پاته والي عامل دئ او ويل کيږي چي دغه حالت به دنړۍ والتوب له سببه په راتلوونکو لسيزو کښې هم دوام ولري.

ګانا اوس درې زره شپږ سوه (3,600) ډاکټران لري چي دهيواد پر شپږ زره اووه سوه (6,700) اوسېدونکو باندي ئې يوډاکټر رسيږي، دامريکا په متحده ايالاتو کښې بيا د څلورسوه دېرشو(430) کسانو له پاره يو ډاکټر وي. دګانا ځوان ډاکټران او نرسان دخپل هيواد څخه انګلستان، دامريکا متحده ايالاتو، جميکا، او کاناډ ته دزيات معاش او ښه کاري شرايطو له پاره مهاجرت کوي. دګانا رسمي احصايه وايي چي د۱۹۹۳ څخه تر ۲۰۰۰ پوري ئې دهيواد ٪۷۸ روزل سوي ډاکټران له لاسه ورکړي دي. جنوبي افريقا (South Africa) هم يو له هغو افريقايي هيوادونو څخه ده چي دتيرو شلو کلنو راهيسي ددماغونو له پرواز سره مخ ده. باور کيږي چي دجنوبي افريقا ددماغونو پرواز دمنطقې پراقتصاد تاثير کولای سي. يوازي دډاکټرانو دپرواز څخه جنوبي افريقا ته يو، عشاريه يو څلوېښت بيليونه ($1.41bn) امريکايي ډالره تاوان وررسيږي. مهاجرت ورته کېدوونکي يا کوربه هيوادونو(hosting countries) بيا ګټې تر لاسه کوي. يوازي انګلستان دجنوبي افريقا دډاکټرانو څخه دوه، عشاريه اووه ($2.7bn) بيليونه امريکايي ډالر ترلاسه کوي. په خدماتي سيکتور کښې کم معاشات او مزدوري، دژوند کولو غيري معياري حالت، دترانسپورټ او سرپناه کمښت،نامساعد کاري چاپيريال، دمسلکي پرمختګ کم امکانات، دتحقيق او انکشاف (Research and Development) له پاره کمه بوديجه،دمسلکي ماشينري کموالی،اجتماعي ناراحتي(Social unrest) سياسي شخړې، جنګونه،دتعليمي نصاب او سيستم ټيټ کيفيت،دازادۍ کموالی، دپرمختګ اووظيفو په ځايونو کښې تبعيض اوداسي نور دافريقا ددماغونودپرواز عوامل دي.

بلي خوا ته بيا ويل کيږي چي چټکي اقتصادي ودي او انکشاف او همداسي په افريقا کښې دمنځنۍ طبقې(middle class) ظهور،دافريقا ددماغونو پرواز اوس ورځ په ورځ سرچپه(معکوس) کوي. د ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۰ پوري دنړۍ لس ترټولو چټک وده کوونکي (fastest-growing) هيوادونه په افريقا کښې ول او توقوع کيږي چي په **۲۰۱۵** کښې به دافريقا اقتصاد داسيا تر اقتصاد قوي سوی وي.اقتصادي انکشاف، دتکنالوژي معرفت، چابک انټرنيټ، ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موبایل سیستم، ښه تعلیم یافته نفوس، مساعد کاروباري چاپیریال افریقایانو ته زمینه برابره کړې ده چي خپلو کورونو ته ور ستانه سي او اوس ډېر افریقایان په خپلو کورونو کښې کار کوي.

## اسیا

غربي اسیا:

عراق

دعراق په جګړه کښې چي امنیت او اساسي خدماتو ته لاس رسی نه ؤ، څلور(4) میلیونو عراقیانو خپل هیواد پرېښودئ. د۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۷ پوري نهه اتیا (۸۹) دپوهنتون پروفیسران او لوړ رتبه لیکچر ورکوونکي وژل سوي ول. دعراق دمعارف وزارت دراپور له مخي د ۲۰۰۷ کال په څلورو میاشتو کښې درې سوه یوولس (۳۱۱)ښوونکي قتل سوي ول. دصدام ددولت دنسکوربدو سره سم، فراري عراقیانو ته زمینه برابره سوه چي بیرته خپل کورته ستانه سي خواوس حالت بیرته بلي خوا ته روان دئ. امنیتي ستونزي، اختطاف، ترورکول، ځوروني، دمجرمینو له خوا دپیسو غوښتنه دعراقیانو ددماغونو دپرواز عوامل دي چي داعراق اقتصاد ئې له ستونزو سره مخ کړی دئ.

ایران:د آی یم ایف یا نړئ وال پولي صندوق(International Monetary Fund) د ۲۰۰۷ کال دسروې له مخي، ایران په نیوي (۹۰) هیوادونو کښې هغه هیواد ؤ چي دبشري سرمایې په پروازکښې ئې لومړی مقام تر لاسه کړ. د ۱۹۹۰ کلنو په شا او خوا کښې یو لک پنځوس زره (150,000) ایرانیان داقتصادي همکارۍ او انکشاف دمؤسسې (Organization for Economic Co-operation and Development OECD) مربوط هیوادونو ته مهاجر سول چي پنځه ویش فیصده (۲۵٪)ئې ماسترۍ درلودلې. د آی یم ایف د ۲۰۰۹ کال په راپوري کښې ویل سوي دي چي هر کال دیولک او پنځوس زره څخه تر یولک و اتیا زره(150,000-180,000) ایرانیان دخپل هیواد څخه وزي چي ایران ته ئې دکال پنځوس بیلیونه امریکایي ډالر تاوان ور رسیږي.په ایران کښې ددماغونو پرواز دبې کاري او سختو اجتماعي قوانینو له مخي رامنځ ته سوی دئ.

منځنی ختیځ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسرائیل

اسرائیل دخپل تاسیس له ورځي څخه بیا تر نن ورځي پوري ددماغونو دپرواز سره مخ دي. ډېر اسرائیل دامریکا متحده ایالاتو ته مهاجرت کوي، اوس مهال دري لکه و دېرش زره (330,000) اسرائیل دخپل هیواد څخه دباندي ژوند کوي. دیوې ټول پوښتني له مخي سیاسي بې ثباتي او ناامني داسرائیلو دمهاجرت عوامل نه دي بلکي دباندي دژوند کولو ښه معیارونه،کاري زمینې،مسلکي پرمختګ(professional advancement) او لوړي زده کړي داسرائیلو دمهاجرت کولو عوامل بلل سوي دي. په اسرائیلو کښي هغه ښه تعلیم یافته کسان چي په ساینس او انجینري کښي زده کړي لري، دباندي ځي او لږ تعلیم یافته دهیواد دننه پاته کیږي. داسرائیلو دتاسیس یعني د مې دمیاشتي ۱۹۴۸ څخه بیا تر ۲۰۰۵ مېلادي پوري څلور لکه (400,000) اسرائیلي ډاکټران او اکاډیمیک شخصیتونو مهاجرت کړی دئ. په ۲۰۰۹ کښي داسرائیلو دلوړو زده کړو شورا (Council for Higher Education) خبر ورکړ چي پنځه ویش فیصده (٪۲۵)تعلیم یافته اسرائیل له هیواد څخه دباندي اوسیږي، چي په دې توګه اسرائیل په نړۍ کښي ددماغونودپرواز ترټولو دلوړي اندازې سره مخ دي.

په دې ورستیو کښي په ډېرو اسرائیلو کښي خپل وطن ته دبیرته ستنېدلو میلان پیاوړی سوی دئ. په ۲۰۰۷ کښي اسرائلي حکومت دخپلو هیوادوالود بیرته راستنېدو دتشویق پروګرام پیل کړ چي مثبته نتیجه ئې ورکړې ده ځکه چي د ۲۰۱۰ راهیسي اسرائیلي څېړونکي، بیزنیس منېجران، مسلکي او تخینکي کسان بیرته خپل هیواد ته ستنیږي.

عربي نړۍ:

دملګروملتونو او دعربي لیګ (Arab League) په حواله، عربي هیوادونه تر ۲۰۱۰ پوري ددماغونو له پروازه سره مخ ول. دعربي ممالکو څخه یو میلیونو متخصیصنو او ماهرینو په غربي هیوادونو کښي ژوند کوئ چي په تخنیکي او علمي ساحو کښي دکارکولو زمینه ئې علت ښودل سوي ؤ خو ځیني نورو عربو بیا دسیاسي بې ثباتي او جنګ له امله خپل هیوادونه پرېښي ول. د ۲۰۱۲ راهیسي دعربي هیوادونو ددماغونو پروازبرعکس کیږي ځکه چي ځوان عرب زده کوونکي پر خپل کور پاتیږي او له دباندي نور هم ورستنیږي چي دغه کار د عرب پسرلي (Arab Spring) په نتیجه کښي سوی دئ. ډېر عرب هیوادونه په دې پوه سول چي ساینس دپرمختګ یوه لار ده نو دوی هم پردغه لار روان سول او په دې توګه ئې خپل هیوادونه ددماغونو له پرواز څخه وژغورل. نړۍ وال

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوامداره اقتصادي رکود(ongoing global recession) یو بل عامل دئ چي عرب ئې ددماغونو له پرواز څخه ساتلي دي.

## پاسفیک اسیا Asia Pacific :

مالیزیا:

مالیزیا ددماغونو له پرواز څخه سخته کړیږي. د هیواد دباندي ښې کاري زمینې او تعلیم، دمالیزیا په داخل کښي فساد ، اجتماعي غیرمساوات (social inequality) دمالیزیا ددماغونو دپرواز عوامل ښودل سوي دي. په ۲۰۱۱ مېلادي کښي بیرناما ( *Berita Nasional Malaysia:*Bernama ) چي دمالیزیا لو حکومتي خبري اجنسي ده،خبر ورکړ چي یو میلیون ماهر مالیزیایان دهیواد دباندی کار کوي.

اوس په مالیزیا کښي ددماغونو پرواز چټک سوی دئ څکه چي د ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۰۹ پوري درې لکه پنځه زره (305,000)مالیزیایانو خپل وطن پرېښئ ؤ او د ۲۰۰۷ کال په مقایسه یولک و څلوېښت زره(140,000) مالیزیایانو مهاجرت کړی ؤ چي اکثره ئې هندي او چینایي اصله مالیزیایان ول. دمالیزیایي کارګرانو او کارمندانو مهاجرت دمالیزیا اقتصادي وده په ۲۰۰۰ کال کښي څلور عشاریه پنځه فیصد(۴،۵٪)اود ۱۹۰۰ کلنو په شا او خواکښي اووه عشاریه دوه فیصده(۷،۲٪)کښته کړې وه.

فلپین:

فلپین له ۱۹۲۰ کلنو (1960s) راهیسي بیا تر ننه پوري ددماغونو له پرواز سره مخ دئ. ددماغانوپروازدفلپین په اقتصادي سیکتورونو کښي، دنرسینګ پرسیکتور سخته اغېزه کړې د ه. که څه هم په دې ورستیو کښي دفلپین په اقتصادي حالت کښي څه نا څه تغیرات راغلي دي خو فلپین دمستعمرو له تاریخه بیا تر نني نړۍ والو اړیکو تر عصره ددماغونو له پروازه سره مخ دئ.

دوهم نړۍ وال جنګ دفلپین اقتصاد اوزېربناو (infrastructure) ته تاوانونه ورسول چي په نیتجه کښي ئې فلپینیان دروغتیايي ستونزو او د ثروت/عاید دغیري مساویانه وېش( uneven wealth distribution) سره مخ کړل. که څه هم پر دولس زره (۱۲۰۰۰) فلپینیانو باندي یو نرس رسیږي خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه وخت دماليې وزير او دملي اقتصادي شورا رئيس روکساس (Roxas) دصحي ستونزو پر ځاي دمالي ستونزو سره لاس او ګرېوان ؤ ځکه چي دولت ئې دبوديجې دکسر سره مخ ؤ. کله چي دامريکا متحده ايالاتو په **۱۹۲۵** کښې دمهاجرت په قانون کښې سمون راوست، نو امريکا ته دفلپيني نرسانو صادورول/مهاجرت هم پيل سو. امريکامتحده ايالات بيا يو له هغو هيوادونو څخه ؤ چي دهيواد په دننه کښې دنرسانو دکمښت سره مخ ؤ. اوس مهال فلپين په دنيا کښې ترټولو زيات نرسان دامريکا متحده ايالاتو، انګلستان، او سعودي عربستان ته صادروي. پورته يادونه وسول چي دامريکامتحده ايالاتو دنرسينګ سيکتور دکارمندانو له کمښت سره مخ ؤ، نوامريکادخپل مهاجرت په قانون کښې تغيرات راوستل چي دفلپينيانو په ګټه تمام سول ځکه چي ډېرو فلپينيانو ته په امريکا کښې دکارکولو زمينه برابره سول، خپل هيواد ته ئې پيسې استولې چي دغه کار دفلپين ددولتي او خصوصي نرسينګ سيکتور دانکشاف سبب سو. که څه هم دفلپين په اړه مکلمه ډاټا ترلاسه کول ستونزمن دي خو د **۱۹۷۰** کلنو څېړني ښئي چي پنځه اتيا **۸۵٪** فلپيني نرسانو له خپل هيواد څخه مهاجرت کړی دئ. ددې سره سم، فلپين په **۱۹۵۰** کښې اوولس (**۱۷**) نرسينګ مکتبونه درلودل خو دغه تعداد په **۱۹۷۰** کښې يو سلو څلوېښت (**۱۴۰** ) ته پورته سو.

دشلمي پېړۍ په اواخرو کښې ديوفلپيني نرس مياشتنی معاش په خپل هيواد کښې له پنځه سوه پنځوس څخه تر زر (1000 - 550) پيساس (pesos) پوري ؤ چي په هغه وخت کښې د اويا الی يو سلو څلوېښت (140 - 70) امريکايي ډالر معادل ؤ خو دامريکا په متحده ايالاتو کښې ديو فلپيني نرس متوسطه اندازه معاش داته سوه څخه تر څوارلس سوه (1400 - 800) امريکايي ډالرپوري ؤ. فلپينيانو به دغه پيسې خپل هيواد ته استولې چي بايد دفلپين داقتصادي انکشاف سبب ګرځېدلی وای خو داسي ونه سول. فلپينيانو په **۱۹۷۸** کښې دو نوي عشاريه پنځه (**۹۲،۵** )ميليونه امريکايي ډالر له امريکا څخه خپل هيواد ته استولي ول چي په **۲۰۰۵** دغه رقم لس عشاريه اووه (10.7) بيليونه امريکايي ډالروته ورسېدئ. که څه هم دفلپين حکومت زياتي پيسې تر لاس کړې خو بياهم د بې کارۍ په کمولو کښې ئې ورسره کومک ونه کړ. په **۱۹۹۰** کښې اته عشاريه څلورفيصده (**۸،۴٪**) فلپينيان بې کاره ول خو په **۲۰۰۳** کښې دغه فيصدي دولس عشاريه اووه(**۱۲،۷٪** )ته پورته سوه.

په **۲۰۱۱** کښې فلپين پرروغتيايي چارو او سهولتونو باندي دخپل ملي نا خالص توليداتو(GDP) درې عشاريه شپږ (**۳،۲** )فيصده مصرف کړی ؤ چي په دې توګه نړۍ وال صحي سازمان( World

(c) ketabton.com: The Digital Library



Health Organization) ورته ۱۷۰ یم مقام ورکړ. د **۱۹۹۹** څخه بیا تر **۲۰۰۳** پوري یعني په پنځو کالو کښي فلپین اووه ویش زره(**۲۷۰۰۰**)دنرسینګ فارغین ورکړي دي مګریوازي په **۲۰۰۵** کښي ئې بیا شُپږ ویش زره(**۲۲۰۰۰**)نرسان له زده کړو څخه فارغه سوي دي خو بیا هم دفلپین صحي نظام (health system) په خاصه توګه په کلیوالي سیمو کښي دبودیجې دکسر، دپرسونل او دپرمختللي تکنالوژي له کمښت سره مخ دئ. پوهان وایي چي دنرسینګ خصوصي او تجارتي کول دفلپین دعلمي کدرونو ددماغونو دپرواز سبب ګرځېدلي دئ.

په فلپین کښي دنرسانو معاش دهغه معاش سره چي په امریکا کښي فلپیني نرسانو ته ورکول کیږي، زیات فرق لري. څېړني ښئي چي د **۲۰۰۵** څخه تر ۲۰۱۰ پوري په فلپین کښي یو فلپیني نرس ته یوسلو اویا(۱۷۰)امریکایي ډالر دمیاشتي ورکول کېدل خو دامریکا په متحده ایالاتو کښي بیا له درې څخه تر څلور زره (3-4000 USD) امریکایي ډالربه دمیاشتي فلپیني نرس ته ورکول کېدل. دامریکا دغه اقتصادي تشویق(economic incentives) دفلپیني نرسانو له پاره ددې سبب سوی دئ چي فلپیني ډاکټران هم خپل کور پرېږدي او امریکا ته ولاړ سي ځکه چي ډاکټرانو به دخپل هیواد په دننه کښي له درې سوه څخه تر اته سوه (300-800 USD) امریکایي ډالر په میاشته کښي ترلاسه کول چي دادپورته ذکرسوي نرسانو ترمعاش ډېر کم ؤ. امریکا ته دفلپیني نرسانو او ډاکټرانو مهاجرت دفلپین ملي صحي سیکتور (national health sector) په تاوان تمام سوی دئ. په ۱۹۹۰ کښي به دپنځلسو الي شلو (15-20) ناروغانو پر سر یو نرس رسېدئ خو دوخت په تېرېدو سره ددې پر ځای چي دفلپین په صحي نظام کښي اصلاحات راغلي وای، خرابی رامنځ ته سوې ځکه چي په ۲۰۰۷ کښي به څلوېښتو الی شپېتو (40-60) مریضانو ته یو نرس ولاړ ؤ.

دفلپیني نرسانو او ډاکټرانو مهاجرت نه داچي دفلپین دصحي سیکتور دخرابی سبب سو بلکي خپله دغه مهاجر فلپینیان هم دزیاتو ستونزو سره مخ سول. دمثال په توګه، دوی په امریکا کښي ونه سوای کولای چي خپل دمسلک مربوط نوي مهارتونه زده کړي، ډېر کله به دشپې او درخصتیو په ورځو کښي پر کار ول، کاري چاپیریال ئې تبعیضي (discriminatory) ؤ، فردیسي، دکورنۍ او تولني څخه لیریوالي په سختو دماغي فشارونواخته کړل. کله چي دیو هیواد حکومت ونه سي کولای چي ددماغونو دپرواز یا دعلمي کدرونو دمهاجرت ګټي او تاوانونه په هر اړخیز ډول وسنجوي، هغه به حتماً په اقتصادي، اجتماعي، مالي او صحي ستونزو اخته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنوبي اسيا: South Asia

هندوستان:

دملګرو ملتونو دانکشافي پروګرام يا (UNDP) دتخمين له مخي انډيا دکاله ددوو بيليونو امريکايي ډالر دتاوان سره مخ ده ځکه چي دانډيا دکمپيوټر ماهران دامريکا متحده ايالاتو ته مهاجرت کوي. هغه هندي شاګردان چي دهيواد دباندي زده کړي کوي، انډيا ئې دکاله دلس بيليونه ($10 billion) امريکايي ډالرودتاوان سره مخ کړې ده ځکه چي هندي شاګردان په هندي، کالدارو خارجي اسعار رانيسي، نو دااقتصا دعلم دقوانينو سره سم، په مارکېټ کښي دهندي پيسو عرضه ډېرېږي او دخارجي پيسو تقاضا زياتيږي،دخارجي اسعار وارزښت هم پورته کيږي او دهندي کالدارو ارزښت بيا کميږي چي دغه حالت انډيا دکاله دلس بيليونه امريکايي ډالرو دتاون سره مخ کړې ده.

نيپال:

هر کال دوه لکه پنځوس زره (250,000) نيپاليان دمختلفو عواملو له سببه دنيپال څخه مهاجرت کوي. دباندني هيوادونو دژوند کولو لوړ معيارونه، کاري زميني، ښه ترا عايد، تعليم، جلبوونکي غربي ژوندسټايل(luring western lifestyle ) امنيت، ثبات او داسي نور هغه عوامل دي چي نيپاليان ئې دخپل هيواد څخه مهاجرت کولو ته تشويق او مجبور کړي دي ځکه دنيپال حکومت تراوسه نه دئ توانېدلی چي خپلو هيوادوالو ته دغه ياد سهولتونو تهيه کړي.

پاکستان:

دپاکستان مغشوش سياسي حالت اودهيواد دباندي دوظيفو ښه ترا امکاناتو پاکستانيانو ته لاره هواره کړې ده چي دخپل هيواد څخه داروپا صنعتي هيوادونو، شمالي امريکا او دمنځني ختيځ دتيلو درلودونکو ممالکو ته مهاجرت وکړي. پاکستان نيم صنعتي (semi-industrialised) هيواد دئ خو بيا هم ويل کيږي چي هر کال په زر ګونو ماهر پاکستاني ډاکټران، انجينران او ساينس پوهان دخپل هيواد څخه مهاجرت کوي.

سريلانکا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریلانکا دد برش کلن داخلي جنګ له سببه لوی تعداد روشنفکران او علمي کدرونو له لاسه ورکړه. دسریلانکا مسلکي کدرونو دامریکا په متحده ایالاتو، استرالیا، کاناډا او انګستان کښي پناه واخیسته. په دې ورستیو کلنو کښي دسریلانکا حکومت او خصوصي مؤسسې دواړه کوښښ کوي چي خپل کدرونه بیرته خپل کورته ستانه کړي خو کراري اقتصادي ودي ( slow economic growth ) او سیاسي بې ثباتي دغه لړی له ستونزو سره مخ کړې ده.

افغانستان:

د تیرو دود برشو(۳۲) کلنو راهیسي افغانستان په نړی دمهاجرینو ترټولو لوړ ثبت(record) خپل کړی دئ. د ملګرو ملتونو دمهاجرینو دعالي کمیشنري دفتر United Nations High Commissioner for Refugees UNHCR) دراپور له مخي، په نړی کښي په اوسط ډول په هرو څلورو مهاجرینو کښي یو افغان مهاجر وي. دملګرو ملتونو یاد دفتر په دې ورستیو کښي یو راپور خپور کړ چي په کښي راغلي وه چي دوه عشاریه شپږ (2.6 million) میلیونه افغانان چي پنځه نوي فیصده (۹۵ ٪)کیږي په ایران او پاکستان کښي اوسیږي. دپاته پنځه فیصده په اړه ویل کیږي چي دپیسو په زور ئې ځانونه تر اروپایي هیوادونو پوري رسولي دي. ځیني نور افغانان بیا دسکالرشیپ له لاري له هیواده مهاجرت کوي اوکه وکولای سي چي دباندي ژوند برابر کړي، نو بیرته خپل کور ته نه راستنیږي. دجرمني چارواکي وایي چي د ۲۰۱۳ تر نیمایي پوري دوه زره اوه سوه (2,700) افغان پناه غوښتونکي ددوی سره ثبت سوي دي. یو ان ایچ سي آر (UNHCR) په خپل ویب سایټ کښي لیکلي دي چي په تیرو لسو کلنو کښي پنځه عشاریه اووه (۵،۷) میلیونه افغان مهاجر په خپله خوښه افغانستان ته ستانه سوي دي خو دامنیتي سونزو له مخي څلور لکه پنځه ویش زره (425,000)افغانان د۲۰۱۲ ترنیمایي پوري دهیواد په دننه کښي بې ځایه ول.

د یو ان ایچ سي آر (UNHCR) په ویب سایټ کښي راغلي دي چي تر ۲۰۱۳ تر اخیره به یو ان ایچ سي آر (UNHCR) په مجموع کښي یو لکه و دو اویازره (172,000) مهاجرچي یو لک او پنځوس زره به له پاکستان، شل زره له ایران او شل زره به له نورو هیوادونو څخه افغانستان ته ستانه کړي.(دیو ان ایچ سي آر په ارقامو کښي تېروتنه سوې ده. که ۲۰۰۰۰+۲۰۰۰۰+۱۵۰۰۰۰ جمع سي، نو تر ۱۷۲۰۰۰ اوړي یعني ۱۹۰۰۰۰ جوړوي. ژباړن) دغو بیرته راستانه کېدونکو افغانانو ته به دسړي پر سر یو سلو پنځوس(۱۵۰) امریکایي ډالر اود صحي، قانوني/حقوقي، اجتماعي موضوعاتو اومسائلو او دماینونو په اړه معلومات اومشورې ورکول سي. داند ښښني وړ خبره داده چي دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته راستانه کېدونکي افغانان به دافغانستان پراقتصاد داوږو بار سي او که څنګه څکه چي زما(ج. م. مهربان) دمعلوماتو له مخي چي په هغه وخت(۲۰۰۸-۲۰۰۲) کښي مي دکندهار دمهاجرینو او بیرته راستانه کېدونکو چارو په ریاست کښي کار کاوه، دبیرته راستانه کېدونکو دمهارتونو له پاره په افغانستان کښي مارکېټ نه ؤ او ځیني ئې په سختو ناروغیو هم اخته ول چي داپر دولت نور مصارف هم راولي. له یوې خوا یو ان ایچ سي آر (UNHCR)، دولت او نړی واله ټولنه اخته دي چي افغان مهاجر خپلو کورونو ته ستانه کړي خو له بلي خوا زیات ماهر افغانان خپل هیواد پرېږدي او ډېر کم ئې بیرته راستنیږي. ددولت دمخالفینو له خوا ترور او ګواښوونه، اختطاف، جنايي فعالیتونه، بې کاري، دبرق اوپاکو اوبو نه ستوالی، په لویو ښارونو کښي ترافیکي ګڼه ګونه،دژوند کولو له پاره کم ځایونه او یا غیري معیاري کورونه، کم معاشات او مزدوري، ناامني، سیاسي بې ثباتي، دهمسایه ممالکو مداخلې، په دولتي او غیردولتي مؤسساتو کښي خپلوي پالنه(nepotism) او داسي نور عوامل دي چي همدا اوس- اوس ئې افغانان په خاصه توګه علمي کدرونه بیا مهاجرت کولو ته مجبوره کړي دي. په افغانستان کښي دپوهنتون دپرفیسر معاش په دولتي پوهنتونونو کښي پر یوه ساعت تر دوه ډالره نه اضافه کیږي اودطب دپوهنځی څخه دفارغه سوي ډاکتر معاش په دولتي روغتون کښي دمیاشتي تقریباً سل ډالره دئ.دغه معاشات داساسي ضرورتونو (basic needs) له پاره هم کافي نه دئ نو څکه مسلکي کدرونه جرمني، استرالیا، کاناډا، دامریکا متحده ایالاتو او دعربو متحده اماراتو ته مهاجرت کوي او اکثره ئې هورې داسي کارونه کوي چي ددوی دمسلک سره مطابقت نه لري. دافغانستان دولت او خصوصي سیکتور دمثال په توګه یو برقي انجینر او نلداوان دبنګله دېش او انډیا څخه په خورا لوړ قیمت واردوي. دافغانستان دمکاتبو او پوهنتونو نصاب دوظیفو دمارکېټ سره چنداني عملي اړخ نه لري نو څکه ډېر افغانان نورو هیوادونو ته ځي او هلته دخدماتو په سیکتور کښي مزدوري کوي. دافغان مهاجرینو دبیرته راستانه کېدو له پاره دافغانستان دولت، نړی واله ټولنه او دامریکا متحده ایالات باید دپورته یاد سوو مشکلاتو له پاره په ګده کار وکړي که داسي ونه سي نو نور مسلکي کدرونه به هم له افغانستان ولاړسي چي لړی ئې همدا اوس دوام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شرقي اسیا Eastern Asia:

چین:

دملي ناخالصو تولیداتو دچټکي ودي سره- سره، چین ددماغونو له پرواز سره مخ دئ. ټول هغه چینایان چي په چین کښي دکاله یولک و شل زره یان(120,000 yuan) یا اوولس زره، شپږ سوه، پنځوس (17,650$) امریکایي ډالر ترلاسه کوي، غواړي چي مهاجرت وکړي.

په چینایانو کښي غربي ممالکو ته دمهاجرت کولو میلان ورځ په ورځ زیاتیږي. په ۲۰۰۷ کښي پنځه شپېته زره (65,000) چینایانو په امریکا، پنځه ویش زرو(25,000) په کاناډا او پنځلس زرو(15,000) په استرالیا کښي ددایمي اوسېدني حق ترلاسه کړ. دچین څخه تلوونکي مهاجر اکثر دمنځنۍ طبقې (middle-class background) مسلکي او ماهر کسان دي چي دچین داقتصاد په جوړولو کښي دملا دتیر غوندي برخه لري. چین په دنیا کښي تر ټول بد دماغونو دپرواز سره مخ دئ ځکه چي په هرو هغو لسو شاګردانو/محصلینو کښي چي دهیواد دباندي زده کړي کوي، اووه کسه ئې هیڅکله بیرته خپل هیواد ته نه ستنیږي.

دماغونو پرواز اکثره وخت پردوو ډولونو پېښیږي. اول، هغه روشنفکران، ماهران او مسلکي کسان چي دمختلفو عواملو او دلایلو له مخي خپل هیواد پرېږدي. دوهم، هغه محصلین چي دباندي زده کړي وکړي او بیا خپل هیواد ته نه ستانه کیږي. چین ددماغونو ددواړو ډوله پروازونو سره مخ دئ خو دوهم ډول ئې تر اول ډول په چین کښي زیات مشهور او عام دئ. دیوویشتمي پېړۍ په پیل کښي، چین خارج ته محصلین واستول چي پرمختللي مهارتونه او پوهه ترلاسه کړي او وکولاسي چي چین دیرغل او فقر څخه وساتي خو دفراغت څخه ورسته ډېر محصلین چین ته ولاړل او زیات ئې بیا په خارجي هیوادونو کښي پاته سول. د ۱۹۵۰ کلنو څخه بیاتر ۱۹۷۰ کلنو پوري په چین کښي سیاسي بې ثباتي وه، ددې بې ثباتي په نتیجه کښي ډېر چینایان مایوسه سول او باندني هیوادونو ته ئې مهاجرت وکړ.

باثباته اقتصادي ودي(steady economic growth) دچین ملي ناخالص تولیدات او سړی سر عاید اضافه کړی دئ، نو ځکه ډېر چینایي مور وپلار خپل اولادونه دزده کړو او ژوند کولو له پاره خارج ته استوي . ډېر چینایان که وکولای سي چي په خارج کښي یوه ښه وظیفه پیداکړي، بیرته خپل کور ته نه ستنیږي. شتمني چینایي کورنۍ علاقه لري چي دښه ژوند کولوله پاره دچین

(c) ketabton.com: The Digital Library



دباندي ژوند وکړي. لاندي جدول دچينايي محصلينو دمهاجرت کال، دمهاجر سوي محصلينو او دبيرته راستنېدونکو تعداد او فيصدي ښئي:

| جدول: دچين دبيرته راستنېدونکو محصلينو فيصدي | | | |
|---|---|---|---|
| کال | بهر ته دلېږدول سوو محصلينو تعداد | دبيرته راستنېدونکو محصلينو تعداد | فيصدي |
| 1978 | 860 | 248 | **28.84** |
| 1979 | 1777 | 231 | **18.16** |
| 1980 | 2124 | 162 | **13.46** |
| 1981 | 2922 | 1143 | **23.22** |
| 1982 | 2326 | 2116 | **38.96** |
| 1983 | 2633 | 2303 | **49.07** |
| 1984 | 3073 | 2290 | **54.04** |
| 1985 | 4888 | 1424 | **48.13** |
| 1986 | 4676 | 1388 | **44.72** |
| 1987 | 4703 | 1605 | **43.06** |
| 1988 | 3786 | 3000 | **47.12** |
| 1989 | 3329 | 1753 | **47.61** |
| 1990 | 2950 | 1593 | **48.08** |
| 1991 | 2900 | 2069 | **49.65** |
| 1992 | 6540 | 3611 | **50.39** |
| 1993 | 10742 | 5128 | **49.92** |
| 1994 | 19071 | 4230 | **43.25** |
| 1995 | 20381 | 5750 | **40.17** |
| 1996 | 20905 | 6570 | **38.66** |
| 1997 | 22410 | 7130 | **37.58** |
| 1998 | 17622 | 7379 | **38.05** |
| 1999 | 23749 | 7748 | **37.36** |
| 2000 | 38989 | 9121 | **34.92** |
| 2001 | 83973 | 12243 | **29.36** |
| 2002 | 125179 | 17945 | **25.01** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| **23.34** | 20152 | 117307 | 2003 |
| **23.03** | 24726 | 114682 | 2004 |
| **24.02** | 34987 | 118515 | 2005 |
| **25.09** | 42000 | 134000 | 2006 |

پورته جدول د ۱۹۷۸ څخه تر ۲۰۰۲ پوري دچينايي محصلينو په بهر کښي داوسېدولو دميلان زياتوالی ښئي خو هغه محصلين چي بيرته خپل هيواد ته ستانه سوي دي، تعداد ئې زيات سوی دئ مګر په مجموع کښي دبيرته راستنېدونکو فيصدي لړ سوې ده.

تايوان:

تايوان دډېر کلنو راهيسي ددماغونو له پرواز سره مخ دئ. ډېرو هغه تايواني انجينرانو چي په خپل کور کښي به ئې ليسانس کړی وٰ، دلوړو زده کړه او پي ايچ ډي (PhD) له پاره به دامريکا متحده ايالاتو ته تلل، کله چي به ئې تعليم پوره سو، هورې به پسې پاته سول. دتايواني انجيرانو دغه کار دهيواد دمايکرو الکترونيک صنعت غوسه وپارول او دانتيجه ئې ورکړه چي د۲۰۱۳ راهيسي تايوانيان دزده کړو دبشپړېدو څخه وروسته بيرته خپل هيواد ته ستنيږي.

# استراليا:

د پاسفيک جزيرې(**Pacific Islands**)

دپاسفيک ډېري جزيرې چي انګلستان تر ۱۹۲۰ او ۱۹۹۰ کلنو پوري مستعمره کړي وې، اوسېدونکو ئې استراليا او نيو زيلاند ته مهاجرت کړی وٰ. دمستعمرو دختمدېدو څخه وروسته، په فيجي(Fiji) ټونګا(Tonga)، او ساموا(Samoa) کښي ددماغونو پرواز ډېر کم واقع سوی دئ. دپاسفيک هغه جزيرې لکه تاحيتي(Tahiti) چي فرانسې مستعمره کړي وې او يا دامريکا متحده ايالاتو ورباندي تسلط درلود، اوسېدونکو ئې فرانسې، دامريکا متحده ايالاتو او کاناډا ته مهاجرت وکړ.

نيو زيلاند:

د ۱۹۹۰ کلنو په جريان کښي به هر کال دېرش زره(30,000) نيوزېلانديانو مهاجرت کاوه. په **۲۰۰۵** کښي داقتصادي همکارۍ او انکشاف مؤسسې (Organization for Economic Co-

(c) ketabton.com: The Digital Library



operation and Development OECD) يو راپور خپور کړ، په دې راپور کښي ليکل سوي وه چي څلرويش عشاريه دوه(۲،۲۴)فيصده نيو زېلانديان دهيواد دباندي په خاصه توګه په استراليا کښي مېشت دي . په ۲۰۰۷ کښي څلرويشت زره (24,000) نورو نيو زېلانديانو استراليا ته مهاجرت وکړ. د ۲۰۰۸ کال په انتخاباتي کمپاين کښي ملي ګوند/ نېشنل پارټي(National Party) په خپل کېمپاين کښي دکار ګر ګوند (Labour Party) چي پرواک ؤ، ناتوانايي په ګوته کول چي نه سي کولاي نيو زيلاندي کارګران او کارمندان دهيواد دننه وساتي. ملي ګوند دسرک پرغاړه پر ولاړو لوحو باندي ليکلي ول چي:"Wave goodbye to higher taxes, not your loved ones" يعني دخپلو خواخوږ دخداي په اماني پرځای، لوړ ټکس اخيستلو ته خدای په اماني وواياست. ملي ګوند په دغه ډول سره انتخابات وګټل. څلور کاله وروسته، دنيوزېلاندي کارمندانو مهاجرت تر پخوا پسي شديد سو، په ۲۰۱۲ کښي درو پنځوس زرو (53,000) نيوزېلانديانو دخپل هيواد څخه مهاجرت وکړ. دنيو زيلاند صدراعظم جان کي(John Key) نړۍ وال مالي بحران (global financial crisis) دنيوزېلانديانو ددماغونو دپرواز سبب وبلئ. د جان کي دحکومت له پيل يعني ۲۰۰۸ څخه بيا تر ډيسمبر ۲۰۱۲ پوري يو لک و اويازره (170,000) نيو زېلانديانو استراليا ته مهاجرت کړی دئ. که له يوې خوا نيو زېلاند خپل ماهران له لاسه ورکوي خو له بله اړخه بيا بيرته دخپل نفوس ديو فيصد په اندازه مسلکي کسان له خارجه تر لاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شمالي امريکا North America :

کاناډا:

په۱۹۲۰کلنو کښې دکاناډا تر شل فيصده(۲۰٪) ډېر انجينرانو او اوساينس پوهانودامريکا متحده ايالاتو ته مهاجرت کاوه. د ۱۹۶۰ څخه بيا تر ۱۹۷۹ پوري اوولس زره (17,000) انجينرانو او ساينس پوهانو امريکا ته مهاجرسوي ول خوپه۱۹۵۱ دتخنيکي کسانو دمهاجرت فيصدي له اوويش فيصده(27%) څخه لس فيصده (۱۰%) ته او په ۱۹۲۷ کښې پنځه فيصده(۵٪) ته کښته سوه.دامريکا متحده ايالاتو ته دکاناډايانو ددماغونو پروازدکاناډا يوه داخلي سياسي موضوع ده.پرعوايدو باندي زيات ټکس(income tax) اخيستل په کاناډا کښې ددماغونو پروازپېښ کړی دئ په داسي حال کښې چي په امريکا کښې دسافټ وير، دهوايي جهازونو، دروغتيا او ساتيري په سيکتورونو کښې معاش لوړ او ټکس لږ دئ. ځيني نورپوهان بيا وايي چي په کاناډا کښې پر تحقيق (research funding) باندي دبوديجې کموالی او دامريکا په متحده ايالاتو کښې دمختلفو وظيفو امکاناتو، کاناډا ددماغونو دپرواز سره مخ کړې ده. کاناډا په ۱۹۹۰ کلنو کښې خپل ځيني ماهر کسان دامريکا پر متحده ايالاتو بايلل خو په مقابل کښې ئې بيرته له دباندي ډېر مسلکي کدرونه تر لاسه کړه، اوس کاناډا ددغو مسلکي کدرونو له استعدادونو او تجربو څخه خوند اخلي خو ځيني وخت بيا کاناډايان دباندني مسلکي کسانو سره تبعيض کوي او دکښته معاش کارځايونو ته ئې ورټيله کوي.

دکاناډا غزېدونکي اقتصاد (resilient economy) پياوړي داخلي مارکېټ، دغوښتنو او معيارونو سره برابر ژوند او په ډېرو سيکتورونو کښې دمناسب معاش/مزدوري ، په کاناډا کښې ددماغونو دپروازپديده پای ته رسولې ده. دکاناډا اقتصادي کاميابي اوس ځينو خاصو مسلکي امريکايانو ته لا دمهاجرت لاره هواره کړې ده. دغيري واقعي شواهدو (Anecdotal evidence) له مخي، د ۲۰۰۱ دسيپتمبر ديوولسمي نېټي دپيښي څخه وروسته،دامريکا په امنيتي اقداماتو ( US security measures) کښې کوم خاص دپام وړ تغير نه دئ راغلي، همدا علت دئ چي اوس امريکايان کاناډا ته مهاجرت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامریکا متحده ایالات:

دامریکا متحده ایالات په عمومي توګه ددماغونو له پرواز سره مخ نه دي ځکه چي په زرو (1,000) تعلیم یافته کسانو کښې د مهاجرت فیصدي صفر عشاریه اووه (0.7) شمېرل سوې ده. دامریکا متحده ایالات دکلیوالي سیمو دکم نفوس په ستونزه اخته دي ځکه چي ډېر تعلیم یافته کلیوالي/صحرایي ځوانان ښاري یا نیمه ښاري سیمو (suburban areas) ته کوچ کوي چي پرکلیوالي ټولنو باندي ئې منفي تاثیر کړی دئ. دامریکا دمسه چوسیټس دتکنالوژي دانسټیټیوټ(Massachusetts Institute of Technology) یو غړی وایي چي "We educate them, but then we don't make it easy for them to stay" موږ صحرایي ځوانان تعلیم یافته کوو خو زموږ دپاره داستونزمنه ده چي دوی په کلیوالي سیمو کښې پاته کړو.

## لاتین امریکا Latin America :

دلاتین امریکا څخه په پېښر مسلکي کسان مهاجرت کوي چي اکثره ئې ډاکټران، معماران او انجینران دي. دغو علمي کدرونو خپل مقصد ځای دامریکا متحده ایالات ټاکلي دي. کله چي دامریکا متحده ایالاتو ته ورسیږي نو هورې داسي کارونو ته لاس ورواچوي چي ددوی دمسلک سره هیڅ سره نه خوري، دغه دلاتین امریکا له پاره ددماغونو پرواز دئ، خو دنړۍ له پاره ددماغونوضایع (brain waste) بلل کیږي. داچي په ځینو لاتین امریکایي ولسونو کښې دشاګردانو نوم ثبتونه په طبي مکتبونه کښې ډېره ده، علت ئې همدا دئ چي اکثره ډاکټران دلاتین امریکا څخه پرواز کوي. د ۲۰۰۰ کال یوه څېړنه ښئي چي لاتین امریکایي هیوادونو خورا ډېر مسلکي کدرونو له لاسه ورکړي چي فیصدي ئې لاندي ښوول سوې ده:

| هیواد | دعلمي/مسلکي کدرونو دمهاجرت فیصدي |
|---|---|
| ارجنټینا | 2.9% |
| برازیل | 3.3% |
| چیلي | 5.3% |
| کولمبیا | 11.0% |
| اکواډور | 10.9% |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| مکسیکو | 14.3%[140] |

**کیوبا Cuba**

په ۱۹۹۷ کښې دکیوبا چارواکو ادعا وکړه چې یو دېرش زره (۳۱۰۰۰) کیوبايي ډاکټران دنړۍ په یو شپېتو(۲۱) ممالکو کښې خپاره دي. دکیوبا شل زره (۲۰۰۰۰) ډاکټران په وینزیوېلا کښې دورځې د یولک (۱۰۰۰۰۰) بېلره تیلو په تبادله په کار اخته دي. هغه کیوبایان چې دخپل دولت له خوا ورته په وینزیوېلا کښې دکار کولو اجازه ورکول سوې ده او هیواد ته پیسې استوي، ددماغونو په پرواز کښې نه شمېرل کېږي.

## کارابین Caribbean :

دکارابین جزیرې زیات تعداد ماهر کارمندان له لاسه ورکوي. ددغو جزیرو څخه تقریباً دېرش فیصده (30%) کاري ځواک دخپلو هیوادونو څخه تللی دئ او اتیا فیصده (80%) دسوري نېم (Suriname)هایتي(Haiti) ګریناډا(Grenada) او ګویانا (Guyana)دجزیرو اوسېدونکي چې دپوهنتونونو څخه فارغه سوي دي دامریکا متحده ایالاتو ته ئې مهاجرت کړی دئ. دجامیکنس (Jamaicans) اکثره اوسېدونکي دهیواد دباندې اوسیږي. ویل کیږي چې ددغو ولسونو مهاجرسوي مسلکي کدرونه خپل هیواد ته پیسې (remittances) استوي. هغه پیسې چې دجامیکنس مسلکي کدرونه خپل هیوادته له دباندې استوي، دیاد هیواد دملي خالصو تولیداتو (GNP) اتلس فیصده (18%) جوړوي. ددغو جزیرو په اړه چې خپلو هیوادونو ته پیسې استوي دغه سوال رامنځ ته کیږي چې ایا دغه میلان(trend) ددماغونو پرواز ویل کیږي او که یا؟

## ددماغونو دپرواز دمخنیوي لارې(Preventative measures)

استعدادونه دیوهیواد په انکشاف کښې خورا مهمه ونډه لري. دهغه هیواد اقتصاد ښه پرمختګ کوي چې نړۍ وال ماهرین او مسلکیان لري نسبت وهغه ته چې نه ئې لري. ډېرو هیوادونو دماهرو کارمندانو او علمي کدرونو دساتلو له پاره راز-راز پالیسۍ جوړي کړي دي. دمثال په توګه، دافریقا دصحت سیکتور ددماغونو له سخت پرواز سره مخ دئ، دمخنیوي له پاره ئې افریقایي دولتونو مختلف پروګرامونو وړاندي او پلي کړي دي. دکویټ خلګ وايي چې دکویټ ددماغونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپرواز دمخنیوي له پاره باید امنیت او امید ته کار وسي ځکه چي کویټیان دخپل هیواد پر راتلوونکي وختونو باندي باور نه لري، افغانانو ته هم ورته ناروغي ورپېښه ده. چین داستعدادونو دساتلو او غوړېدلو(flourish) له پاره دژوند کولو عادي او ازاده فضااو میکانیزم رامنځ ته کوي. انډیا که څه هم ددماغونو له پرواز سره مخ ده خو تراوسه ئې کوم پرواګرام او پالیسي نه ده جوړه کړې ځکه چي انډیا په دې باور ده چي دانډیا څخه دباندي علمي کدرونو به دانډیا دراتلوونکي له پاره ښه کار وکړي. جرمنیانو د (GAIN) یا (حصول) په نوم یو دولتي ابتکار کړی دئ چي له مخي ئې هغه جرمنیان چي دباندي ژوند کوي خپلو کورونو ته ورستانه کوي. نور ممالک لکه سویټزرلېنډ ، اسټریا (Austria) او فرانسه هم جرمني ته ورته پروګرامونه لري.

ددماغونو پرواز دمهارتونو کمښت رامنځ ته کوي او دپانګي اچووني (investment) پربایللو دلالت کوي. ددماغونودپروازدمخنیوي له پاره هیوادونه باید په محلي مارکېټونو کښي اصلاحات راولي. تجربو ښوولې ده چي ددماغونو دمخنیوي له پاره ترټولو ښه حل لار داده چي خپلو مسلکي کدرونو ته امیتاز ورکول سي چي په خپل کور کښي پاته سي خودبې کارۍ دکمولو یوه لاره هم داده چي یو هیواد خپلو اوسېدونکو ته ددباندي کارکولو له پاره اجازه ورکړي. دلته سوال رامنځ ته کیږي چي ایا ددماغونوپرواز ښه دئ او که بد؟ دا دیو هیواد په اقتصادي حالت پوري اړه لري چي ددماغونو پرواز ته اجازه ورکوي او که یا.

ددماغونو دپرواز (brain drain) متضاد حالت ددماغونو حصول(brain gain) دئ. ددماغونو دحصول له مخي، دولتونه کوښښ کوي چي هم خپل علمي او مسلکي کدرونه هم وساتي او هم له نورو هیوادونو څخه دغسي شخصیتونه تر لاسه کړي، چي یو ښه مثال ئې کاناډا ده. په ۲۰۰۳ کښي انګستان د ولفسن فاونډېشن(Wolfson Foundation) په همکارۍ دشلو میلیونه پاونډو( 20 million) په ارزښت یو پنځه کلن تحقیقي(research) پرواګرام تاسیس کړ. دپروګرام هدف دادئ چي فردېس انګلېسي ساینس پوهان له نوروهیوادونو څخه بیرته خپل هیواد ته ستانه اودراتلوونکي برتانوي ځوانانو دمهاجرت لړۍ ودروي.

په عمومي توګه پرمختلوونکي هیوادونه(developing countries) ددماغونو له پرواز څخه کړیږي ځکه چي ددغه هیوادونو څخه علمي کدرونه وزي او بیا ډېر لږ اوسېدونکي بیرته خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادونو ته هغه مهال ستنیږي چې ښه خوړین سوي وي. د پرمختللوونکو هیوادونو ځینې مسلکي کسان په نورو هیوادونو کښې د مسلک مربوط کارونه هم نه سي پیدا کولای، اکثره ئې د خدماتو په سیکتور(service industry) کښې کار شروع کړي چې د دوی د مسلک سره هیڅ برابر نه وي، کله چې خپل هیواد ته بیرته ستنیږي، هغه مهارتونه چې دوی مخکې درلودل، له یاده ئې وتلي اویا په مارکېټ کښې تقاضا نه لري ځکه چې زاړه او تروخت تېر سوي وي. دغه حالت ته نو بیا د دماغونو ضایع (brain waste) ویل کیږي چې د دولتونو له پاره یو بل رنځ دئ او باید مخنیوی ئې وکړي. افغانان هم په دغه رنځ اخته دي، علمي کدرونه ئې په غرب او نوره دنیا کښې داسې کارونه کوي چې د دوی د مسلک خلاف دي.

## د دماغوند د پرواز گټې The advantages of the brain drain :

د دماغونو پرواز د تعلیم له سیکتور څخه د بشري منابعو(human resources) صادرولو ته وایي چې د هیوادونو په جوړولو کښې د پیسو د چاپولو د ماشین غوندې ونډه لري. د بهرني علمي کدرونو مهاجرت د امریکا د متحده ایالاتو په اقتصاد کښې د کاله د اووه بیلیونه امریکایي ډالرو مرسته کوي. د دماغونو پرواز د اصلي ټاټوبي (country of origin) او کوربه هیواد ( hosting country)د واړو له پاره (دوې اړخیزي)گټې لري: هغه هیوادونه چې له د باندي مسلکي کدرونه ترلاسه کوي، د بشري ځواک (labour fore) خلا ډکوي. هغه هیواد چې وگړي ئې نورو هیوادونو ته مهاجرت کوي، خپلو هیوادونو ته پیسې (remittances) استوي چې په نتیجه کښې د دواړو هیوادونو اقتصادي انکشاف کوي. د اصلي ټاټوبي اوسېدونکي چې خپلو هیوادونو ته پیسې استوي، دا په حقیقت کښې د خپلو وطنوالو له پاره د لوړو زده کړو تقاضا نوره هم اوچتوي او د ژوند کولو معیار اصلاح کوي.

بله گټه ئې داده چې هر هیواد نه سي کولای چې د خپلو علمي او مسلکي کدرونو څخه د مختلفو عواملو له مخې ښه استفاده وکړي، نو د دغسې هیوادونو د وگړو او دولت له پاره ښه ترا داده چې علمي کدرونه ئې نورو هیوادونو ته مهاجرت وکړي او خپلو هیوادونو ته پیسې واستوي. کله چې مهاجر سوي مسلکیان/علمي کدرونه خپلو هیوادونه ته ستانه کیږي، شاید دوی له ځانونه سره نوي مهارتونه او پوهه هم خپلو هیوادونو ته ور وړي. په ۲۰۱۱ کښې په ټول نړۍ کښې د مهاجر کارمندانو هغه پیسې چې خپلو هیوادونو ته ئې استولي وې، درې سوه، دواویا بیلیونه(۳۷۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکايي ډالر تخمين سوي دي چي په دې جمه کښي يوازي مکسيکو او فليپين په ياد کال کښي څلرويش بيليونه(۲۴ ) امريکايي ډالر دخپلو مهاجر کارمندانو څخه تر لاسه کړي دي.

ددماغونو دپرواز منفي نتايج**Negative consequences of the brain drain**:


ددماغونو دپرواز ګټې پورته يادي سوې خو تاوانونه ئې دخپل سرليک او ماهيت څخه په څرګند ډول معلوميږي. ددماغونو دپرواز لومړی تاوان دادئ چي يو هيواد خپلي هغه بشري منابع له لاسه ورکوي چي دټولني او اقتصاد له پاره په مجموع کښي ډيري مهمي دي. هغو هيوادونو چي ددماغونو پرواز ئې ګټور بللی دئ، په حقيقت کښي دټولني پرڅای دافرادو رفا په نظر کښي نيسي اوددماغونو پرواز همداسي ماهيت لري چي ترټولني ئې افرادو ته ګټه رسيږي. په غيري مساوي توګه دمهارتونو او پوهي وېشل هم داصلي او هم دکوربه هيواد داقتصاد له پاره زيانونه لري. هغه ماهر کسان چي تر اوږد مهاجرت وروسته خپلو کورونو ته ستانه سي، نو دخپلو وطنوالو له خوا ورته دباندني کس په نظر کتل کيږي چي دا يوډول رواني ستونزي جوړوي. زيات ماهر کسان کولای سي چي دخپلو هيوادونو څخه خپلي کورنۍ هم له يوڅه وخت وروسته له ځانه سره يو ځای کړي، ددې نتيجه داده چي دوی بيا نور خپلو هيوادونو ته پيسې نه استوي، دا نو داسی تاوان دئ چي هم کدر له لاسه ورکول سو او هم ئې پيسې.


(c) ketabton.com: The Digital Library



## ضميمې:

په ۲۰۰۵ کښې پر تحقيق او انکشاف باندې د لسو هيوادونو مصارف



(c) ketabton.com: The Digital Library



| د نړۍ لس بانفوسه هيوادونه<br>World Top Ten Populated Countries | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | هيواد | 2000 | 2010 | 2012 | 2050 تخيمن |
| 1 | چين | 1,268,853,362 | 1,330,141,295 | **1,343,239,923** | **1,303,723,332** |
| 2 | هندوستان | 1,004,124,224 | 1,173,108,018 | **1,205,073,612** | **1,656,553,632** |
| 3 | دامريکا متحده ايالات | 282,338,631 | 310,232,863 | **313,847,465** | **439,010,253** |
| 4 | اندونيزيا | 213,829,469 | 242,968,342 | **248,645,008** | **313,020,847** |
| 5 | برازيل | 176,319,621 | 201,103,330 | **193,946,886** | **260,692,493** |
| 6 | پاکستان | 146,404,914 | 184,404,791 | **190,291,129** | **276,428,758** |
| 7 | ناجيريا | 123,178,818 | 152,217,341 | **170,123,740** | **264,262,405** |
| 8 | بنګله دېش | 130,406,594 | 156,118,464 | **161,083,804** | **233,587,279** |
| 9 | روسيه | 146,709,971 | 139,390,205 | **142,517,670** | **109,187,353** |
| 10 | جاپان | 126,729,223 | 126,804,433 | **127,368,088** | **93,673,826** |
| دلسو هيوادونو مجموعه | | 3,618,894,827 | 4,016,489,082 | **4,096,137,325** | **4,950,140,178** |
| د نړۍ نور هيوادونه | | 2,466,012,769 | 2,829,120,878 | **2,921,709,597** | **4,306,202,522** |
| د ټول نړۍ نفوس | | 6,084,907,596 | 6,845,609,960 | **7,017,846,922** | **9,256,342,700** |
| منبع | | **http://www.internetworldstats.com/stats8.htm** | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| شماره | هیواد | پلازمېنه | کرنسي | ملي نا خالص تولیدات(سړي سر) په ډالر |
|---|---|---|---|---|
| | | | | دنړۍ لس شتمن هیوادونه<br>**Top 10 Richest Countries in the World** |
| 1 | قطر | دوهه | قطري ریال | **102,768.69** |
| 2 | لکسیمبورګ | لکسیمبورګ | ایرو | **80,679.06** |
| 3 | سینګاپور | سینګاپور | سینګاپوري ډالر | **60,883.33** |
| 4 | ناروي | اوسلو | ناروېژي کرون | **55,264.45** |
| 5 | بروني داروسلام | بندر سیري بیګوان | بروني ډالر | **50,526.35** |
| 6 | دامریکا متحده ایالات | واشنګټن ډي سي | امریکایي ډار | **49,802.15** |
| 7 | دعربو متحده امارات | ابُوظبی | درهم | **48,992.47** |
| 8 | سویټزرلنډ | بیرني | سویس فراک | **45,285.8** |
| 9 | کویټ | کویټ ښار | کویتي دینار | **43,846.72** |
| 10 | استریا | وینا | ایرو | **42,477.49** |
| منبع | | **http://www.mapsofworld.com/world-top-ten/world-top-ten-richest-countries-map.html** | | |
| یادانبت: | | مختلف ویب سایټونه مختلف معلومات او حصایه وړاندي کوي. | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| دنړۍ لس فقیر هیوادونه | | | |
|---|---|---|---|
| شماره | هیواد | سړي سر ملي ناخالص تولید په ډالر<br>Per Capita GDP 2011 | |
| ۱ | کانګو | 348 | |
| ۲ | لایبریا | 456 | |
| ۳ | زیمبابې | 487 | |
| ۴ | بروندي | 615 | |
| ۵ | ایریتیریا | 735 | |
| ۶ | دمرکزي افریقا جمهوریت | 768 | |
| ۷ | نایجر | 771 | |
| ۸ | سایرا لیون | 849 | |
| ۹ | ملاوي | 860 | |
| ۱۰ | توګو | 899 | |
| منبع | http://www.mapsofworld.com/world-top-ten/world-top-ten-poorest-countries-map.html | | |

# ماخذونه:


1. http://en.wikipedia.org/wiki/Brain_drain
2. http://www.tutor2u.net/blog/index.php/economics/comments/unit-2-macro-portugals-brain-drain
3. Ntagwirumugara Etienne, PhD,Coordinator RwEdNet & Professor at Kigali Institute of Science and Technology, RWANDA*14-18 May 2012*
4. http://skills.oecd.org/hotissues/braindrain.html
5. http://www.unhcr.org/pages/49e486eb6.html

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر برېښنايي کتابتون

**قدرمنو لوستونکو !**

تاسو کولاۍ سئ د لراوبر ويبپاڼي په برېښنايي کتابتون کي زيات شمېر ارزښتناک او په زړه پوري آثار په خپل تفريحي وخت کي مطالعه کړئ .

د لراوبر انلاين کتابتون ستاسو لپاره د لاندينيو موضوعګانو اړوند آثار پر ليکه کوي :

- **اسلام او مذهب**
- **ساينس او تخنيک**
- **سپورټ او روغتيا**
- **تاريخ او سياست**
- **هنر او ادبيات**
- **دماشومانو لپاره**
- **بېلابېل آثار**




**[www.Larawbar.net/library](http://www.Larawbar.net/library)**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**